هفته نامه **معارف** اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۱۵) ماه جمادی الثانی ۱۴۴۷ هـ ق. مطابق ماه قوس ۱۴۰۴ هـ ش.

**د بالغې نجلۍ ولي**
**شرعاً نشي کولای چې د هغې له خوښې**
**پرته په اجبار سره یې چاته په نکاح**
**ورکړي.**

د خپښي، ودونو، مصيبتونو او همدا راز له حج او عمرې څخه د راستنېدو پرمهال د ناسمو رواجونو د مخنیوي په هکله د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله تعالی فرمان

# تر راتلونکو ۵ کلونو پورې به د معیاري آزموینو لړۍ ټولو ولایتونو ته وغځول شي

د پوهنې وزیر محترم الحاج مولوي حبیب‌الله آغا، د کابل ښار په اماني عالي لېسه کې د لسمې ښوونیزې حوزې اړوندو ښوونځیو له معیاري آزموینې څخه د لیدنې پرمهال وویل: له دې بهیر څخه اساسي موخه د روڼتیا او د زده کړو کیفیت لوړول، او د آزموینو معیاري کول دي. همدارنګه نوموړي زیاته کړه: هڅه کوو ترڅو په راتلونکو ۵ کلونو کې دغه بهیر د هېواد ټولو ولایتونو ته وغځوو.

د یادونې وړ ده، معیاري آزموینې، د اسلامي ښوونې او روزنې، ژبې، کیمیا او ریاضیاتو په مضمونونو کې ترسره کېږي او له پلان سره سم به د کابل ښار په ۱۶ ګونو ښوونیزو حوزو او ۳۰ سیمو کې د امارتي او خصوصي ښوونځیو د لسمو ټولګیو له ۴۱۸۲۲ تنو زده‌کوونکو څخه واخیستل شي.

## نظارت معین محترم تضمین کیفیت وزارت معارف از روند ارزیابی امتحان معیاری شاگردان شماری از مکاتب شهر کابل

محترم الحاج مولوی عبدالخالق صادق معین تضمین کیفیت وزارت معارف در جریان بازدید از برگزاری امتحانات معیاری شاگردان مکاتب در ناحیه ششم و چهارم شهر کابل گفت: تعلیم و تربیه زیربنای توسعه واقعی جامعه و تعلیمات معیاری، متضمن آینده‌ی روشن است.

معین محترم تضمین کیفیت در حالیکه از برگزاری امتحانات معیاری نظارت میکرد گفت: هر عملی زمانی به درگاه خداوند جل جلاله مقبول است که با اخلاص، معیار و کیفیت بالا انجام شود.

وی تأکید کرد؛ که وزارت معارف متعهد به ارائه آموزش با کیفیت عالی برای نسل جدید کشور است و شاگردان باید با جدیت کامل به دروس خود ادامه دهند.



هم چنان وی از شفافیت، در روند این امتحان به اشتراک کنندگان اطمینان داده، گفت: امتحان متذکره با صداقت، عدالت و شفافیت برگزار شده است.

همچنان هیئت محترم رهبری و محترم شیخ مولوی محمد طاؤس طارق رئیس عمومی دفتر مقام وزارت نیز همراه با شماری از سایر مسئولان ریاست های مرکزی از جریان امتحانات یاد شده درمکاتب نواحی مختلف شهر کابل بازدید نموده و نتایج آن را قناعت بخش دانستند.

قابل یاد آوریست که امتحانات معیاری یاد شده که به ابتکار معینیت تضمین کیفیت وزارت معارف در مکاتب شهر کابل آغاز شده بود بعد از سه روز موفقانه به پایان رسید.

## په فاریاب ولایت کې ۳ بابه ښوونځي ګټې اخیستنې ته وسپارل شول

د فاریاب ولایت په المار، پښتون کوټ او خواجه موسی ولسوالیو کې د خیریې اوسیدونکو او له معارف سره د همکارو بنسټونو په مالي مرسته د ۴۵ میلیونو افغانیو په لګښت ۳ بابه نوي ښوونځي جوړ او د جلا غونډو په ترڅ کې چې په کې د یاد ولایت د معارف مسئولینو، علماءکرامو، قومي مشرانو او د امارتي ادارو یو شمېر مسئولینو ګډون درلود ګټې اخیستنې ته وسپارل شول...

۲مخ

## نزدیک به ۱۰۰ تن فارغان دارالعلوم امام ابوحنیفه (رح) سند فراغت دریافت نمودند



از سوی معینیت تعلیمات اسلامی وزارت معارف، برای ۹۹ تن از فارغان صنوف چهاردهم و دوازدهم دارالعلوم امام ابوحنیفه (رح) محفل فراغت برگزار شد.

در این محفل، محترم الحاج مولوی کرامت‌الله آخندزاده، معین تعلیمات اسلامی وزارت معارف، محترم الحاج مولوی خلیفه دین‌محمد، رئیس شورای علمای ولایت کابل جمعی از علمای کرام و استادان اشتراک کرده بودند.

معین محترم تعلیمات اسلامی در سخنانی در مورد ارزش علم گفت که علم از نگاه دینی و دنیوی، جایگاه بلندی در اصلاح جامعه دارد، زیرا علم انسان را در شناخت حلال و حرام، حق و باطل یاری رسانده و مسیر درست زندگی را نشان می‌دهد....

ص۲

## افتتاح تعمیر جدید یک باب مکتب در ولایت تخار

تعمیر جدید لیسه مغلان ولسوالی ینگی قلعه ولایت تخار که به هزینهٔ ۱۹.۵ میلیون افغانی از سوی یک نهاد همکار با معارف به شکل پخته و اساسی اعمار گردیده است، طی محفلی با اشتراک مسئولان ریاست معارف آن ولایت، محترم مولوی سمیع الله حزب الله والی و مسئولان مقام ولایت تخار، علمای کرام، نماینده نهاد کمک کننده و محاسن سفیدان محل، افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

مسئولان ریاست معارف ولایت تخار میگویند تعمیر جدید مکتب یاد شده دارای ۸ صنف درسی، ۲ اتاق اداری، ۲ باب کتابخانه، سالون کنفرانس و ملحقات ضروری دیگر آن می باشد که در مساحت ۲.۵ جریب زمین اعمار گردیده است.

مسئولان در سخنان شان، پیرامون نقش تعلیم و تربیه دراصلاح جامعه صحبت نموده و از مردم خواستند تا از پلان های این وزارت حمایت نموده و فرزندان خویش را به مراکز تعلیمی بفرستند.

## د کابل عالي مرکزي دارالحفاظ څخه لسګونه تنه حافظان او طُلاب العلم فارغ شول

د کابل عالي مرکزي دارالحفاظ څخه ۱۵۳ تنه طُلاب العلم او حافظان د یو لړ مراسمو په ترڅ کې چې په کې د پوهنې وزارت مسئولینو، د فارغانو والدینو او یو زیات شمېر مېلمنو حضور درلود فارغ شول.

د غونډې په پیل کې د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معین محترم الحاج مولوي کرامت الله آخندزاده فارغانو ته مبارکي وویله او د علم ارزښت ته په اشارې سره یې وویل: علم د هرې ټولنې اساسي اړتیا ده او ټولنو ته هوساینه، ثبات او رڼا وربښي. نوموړي زیاته کړه: قرآن کریم د انسان د دنیا او آخرت د نېکمرغۍ بشپړ لارښود دی او انسان ته د سیاست، اقتصاد، اخلاقو او ټولنیز ژوند په ټولو برخو کې ښه لارښوونه کوي.

دغه راز د اسلامي زده کړو معین د پوهنې وزارت د روانو اصلاحاتو او معیاري کولو یادونه وکړه او وې ویل: پوهنې وزارت د تعلیمي نظام په پیاوړتیا کې ډېره هڅه کړې او کوي یې. نوموړي زیاته کړه: سږ کال په کابل کې د لسمو ټولګیو د معیاري آزموینو ....



۲مخ

### در این شماره


ښوونکي د ذهن په بڼ کې د پوهې ګلان کري — ۲ مخ

نبوي ملغلرې — ۳ مخ

قدر لحظه ها را بدانیم! — صفحه ۳

سرمقاله

# ښوونکي د ذهن په بڼ کې د پوهې ګلان کري

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلحَمدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلَوٰةُ وَالسَّلامُ عَلَى سَيِّدِالمُرسَلِينَ وَ عَلَى آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ

قدرمن مدرسین او ښوونکي د طُلابو او زده کوونکو د شخصیت جوړولو او راتلونکي معماران دي. دوی هغه څوک دي چې د طُلابو او زده‌کوونکو په ذهن کې د پوهې رڼا خپروي او د راتلونکي ژوند په اوږده سفر کې یې د یو زړه سواندي لارښود په څېر لاسنيوی کوي، کله چې مدرسين او ښوونکي خپلو طُلابو او زده کوونکو ته په اخلاص، مينې او ورين تندي زده کړه ورکوي، د طُلابو او د زده‌کوونکو په ذهنونو کې په خپل ځان باور زياتيږي او د زده‌کړې سره يې مينه پيدا کېږي، د قدرمنو مدرسينو او ښوونکو اغېز يوازې په درس پورې محدود نه دی، بلکې د دوی ښه چلند او شخصيت د طُلابو او زده‌کوونکو په چلند، اخلاقو او حتی ددوی په راتلونکي ژوند باندې هم اغېز کوي.

ښه او غوره مدرسين او ښوونکي د زده کړې په بهير کې د طُلابو او زده‌کوونکو ستونزو ته پام کوي. د ضعيف ذهنه طُلابو او زده‌کوونکو لاس په ډېرې مهربانۍ او شفقت نيسي او ددوی د سويې او پوهې سره سم له هغوی سره په زده کړه کې مرسته کوي، د ذهينو طُلابو او زده‌کوونکو د استعدادونو په وده کې لا زياته هڅه کوي، د مدرسينو او ښوونکو نرمې اوپه مهربانۍ خبرې، هڅونه او باور طُلابو او زده کوونکو ته دا احساس ورکوي چې هغوی د زده کړې او دخپل استعداد د ودې وړتيا لري او کولای شي په خپل زده کړيز سفر کې د خپلو تاکل شوو موخو تر لوړو څوکو ورسيږي.

په مدرسه او ښوونځي کې د قدر وړ مدرسينو او ښوونکو لخوا رامنځ ته شوی مثبت چاپيريال د طُلابو او زده‌کوونکو د بريا بنسټ دی. کله چې مدرسين او ښوونکي په خوږه او حلمت ژبه درس پيلوي او هغوی ته د درس په بهير کې د کتاب لوستلو تر څنګ د مثالونو او واقعي کيسو په بيانولو سره يې د ژوند واقعي او رښتيني دنيا ته داخلوي او دغه مثالونه او کيسې له اصلي درس سره نښلوي نو طُلاب او زده‌کوونکي نه يوازې معلومات تر لاسه کوي، بلکې زده‌کړه د يوه با ارزښته سفر په توګه تجربه کوي. د مدرسينو او ښوونکو د خبرو او ويناوو اغېز د وخت په تېرېدو نه زړېږي بلکې هغه خبرې، نصيحتونه او لارښوونې چې هغوی د نېک نيت، پوهې او مهربانۍ په روښانه لاره کې کوي، کلونه وروسته هم د طُلابو او زده‌کوونکو په ذهن کې پاتې وي او د هغو يادونه کوي او ډېری وخت انسان د ژوند په مهمو پرېکړو کې د خپل ښوونکي له ويناوو الهام اخلي.

قدرمن مدرسين او ښوونکي چې هر څومره مهربانه او ښه وي، ټولنه به هم ښه وي. ځکه هر نسل ددوی د روزنې هنداره ده. نېک مدرسين او ښوونکي د ملک د ښه راتلونکي اصلي سرچينه ده، چې ددوی د هڅو او کوښښونو په مټ زړونه روښانه کېږي، ذهنونه ځلیږي او راتلونکي نسلونه ددوی په لارښوونه تر خپل منزل پورې رسيږي. مدرسين او ښوونکي چې دا سپېڅلې دنده په مخ بيايي د قدر وړ دي او بايد هر وګړی ددوی د زحمتونو او ستړياوو ته د قدر په سترګه وګوري.

## آغاز رقابت های «صرف و نحو» درمدارس شماری از ولایات

معینیت تعلیمات اسلامی وزارت معارف میان طلاب دارالعلوم های ولایات کنر، بغلان، نیمروز و هلمند رقابت های علمی « صرف و نحو » را آغاز نمود.

به همین مناسبت شماری از مسئولان ریاست دارالعلوم های وزارت معارف منحیث ناظر از جریان این مسابقات عازم ولایت های مذکور شده اند که محترم مولوی عبدالقدوس قدوسی رئیس دارالعلوم های وزارت معارف به ولایت بغلان عزیمت نمود.

به گفته مسئولان معینیت تعلیمات اسلامی وزارت معارف، این رقابت ها در فضای کاملاً شفاف برگزار خواهد شد و قرار است که صندوق سوالات نیز با حضور روئسای معارف ولایت های مربوطه و هیئت امتحان باز شود.

آن ها افزودند: در پایان این مسابقات علمی برای طلاب ممتاز از سوی مسئولان، تحایف و تحسین نامه ها توزیع می شود.

## په لوګر ولایت کې د ۴۳ مېلیونه افغانیو په لګښت د ٦١ تعلیمي پروژو بیارغونې چارې روانې دي

د لوګر ولايت پوهنې رياست د مسئولينو د معلوماتو له مخې په ياد ولايت کې د ۶۱ تعليمي مرکزونو د بيارغونې او ترميم چارې روانې دي، چې له ۷۰ تر ۹۰ سلنې پورې يې رغنيزې چارې بشپړې او په نږدې راتلونکې کې به ګټې اخيستنې ته وسپارل شي. د يادو پروژو لګښت شاوخوا ۴۳ مېليونه افغانۍ اټکل شوی، چې د پوهنې په برخه کې د مرستندويه بنسټونو لخوا تمويليږي.

د يادونې وړ ده، چې په يادو پروژو کې د څښاک پاکو اوبو څاګانې کيندل او تجهيز، د لمريزې برېښنا د سيستمونو نصبول، د احاطوي دېوالونو رغول، د درسي خونو ترميم او د ودانيو بيارغونه او نور شامل دي.

**په فارياب ولايت کې...**

د فارياب ولايت د پوهنې رياست مسئولينو د معلوماتو له مخې، د المار ولسوالۍ اړوند د ګېي ميرشکار په نوم د يو باب لومړني ښوونځي نوې ودانۍ د نږدې ۱۶ ميليونه افغانيو په لګښت د يوې همکارې ادارې په مرسته په دوه نيم جريبه ځمکه کې جوړه شوې چې د سيمې د اوسېدونکو لخوا وقف شوې، ياد ښوونځی ۸ درسي ټولګي، اداري خونه، آزمايښتون، د برېښنا او اوبو بشپړ سيستم، احاطوي دېوال، لوبغالی او نور اړين ملحقات لري. همداراز د پشتون‌کوټ ولسوالۍ اړوند بلوخ روزيقل د لومړني ښوونځي نوې ودانۍ چې د يو همکار بنسټ په مالي مرسته د ۱۵ مېليونو افغانيو په لګښت په۳ جريبه ځمکه کې چې د سيمې اوسېدونکو لخوا وقف شوې جوړه شوې.

د پوهنې رياست د مسئولينو د معلوماتو پر بنسټ ياده ودانۍ ۸ درسي ټولګي، يوه اداري څانګه، آزمايښتون، د لمريزې برېښنا سيستم، احاطوي دېوال، د څښاک پاکو اوبو څاه او لوبغالی لري، چې په يو پوړ کې په پاخه او اساسي توګه جوړه شوې.

په خواجه موسی ولسوالۍ کې د يکه‌تپه لومړني ښوونځي نوې ودانۍ چې ۸ درسي ټولګي، اداري خونې، آزمايښتون، برېښنا سيستم، احاطوي دېوال او د څښاک پاکې اوبه لري، د ۱۴.۳۶ مېليونه افغانيو په لګښت د يوې همکارې ادارې په مالي مرسته جوړه شوې ده.

مسئولين زياتوي، چې ددغو ښوونځيو په جوړېدو سره د يادو سيمو په زرګونو تنه زده کوونکو ته د زده کړې مناسب او خوندي چاپېريال را منځ ته شوی.

په هغه جلا غونډو کې چې د يادو ښوونځيو د پرانيستلو په مناسبت جوړې شوې وې ويناوالو په خپلو خبرو کې، د ښوونې او روزنې په ارزښت، د ودانيزو پروژو په جوړولو او زده کوونکو ته د مناسب تعليمي چاپېريال را منځ ته کېدو د اغېز په اړه خبرې وکړې او د معارف د ودې په برخه کې يې د يادو سيمو د معارف دوسته اوسېدونکو له مرستې او همکارۍ په ځانګړې توګه د ښوونځيو جوړېدو لپاره د ځمکې وقف کولو له امله مننه او قدرداني وکړه.

په همدې حال کې د يادو سيمو اوسېدونکو هم د يادو ښوونځيو له جوړېدو خوښي څرګنده کړه او د علم او پوهې د ودې په برخه کې يې د پوهنې وزارت هڅې وستايلې.

د پوهنې وزارت د يادو ښوونيزو پروژو پلي کېدل د علم او پوهې د ودې او د زده‌کوونکو لپاره د مناسب تعليمي چاپېريال د رامنځته کېدو په برخه کې مهم ګام بولي او په دې برخه کې د هېوادوالو له مرستو او همکارۍ مننه کوي.

***

**نزدیک به ۱۰۰ تن فارغان دارالعلوم...**

در ادامه، رئیس شورای علمای ولایت کابل نیز برای فارغان در مورد ارزش علم و ادب سخنرانی کرد و گفت: «ادب، احترام به علم است و بدون ادب، علم ارزشی ندارد. ادب نشانه احترام، دانایی، اخلاق و روحانیت است.»

در پایان محفل برای ۹۹ تن فارغان دارالعلوم یاد شده از طرف مسئولان اسناد فراغت توزیع شد

***

**د کابل عالي مرکزي دارالحفاظ ...**

بهیر په بریالیتوب ترسره شو او دغه لړۍ به په تدریج سره نورو ولایتونو ته هم وغځول شي.

همدارنګه د اسلامي زده کړو معين له حافظانو وغوښتل چې يوازې د قران کريم په حفظ بسنه ونه کړي، بلکې د ديني او عصري علومو په دوامداره زده کړه کې هڅه وکړي ترڅو د ټولنې د رښتينې رڼا سرچينې وګرځي.

په دې غونډه کې د کابل عالي مرکزي دارالحفاظ آمر محترم مولوي غلام‌الرحمن منيب د خپلو خبرو په ترڅ کې له فارغانو وغوښتل چې خپل علم د ټولنې د خدمت لپاره وکاروي او د قرآن کريم د پيغام رسولو په برخه کې لا ډېر کوښښ وکړي.

فارغ شوو حافظانو او طُلاب العلم هم ژمنه وکړه چې ملک او ټولنې د خدمت او ښېرازۍ له پاره به له هېڅ راز هلو ځلو ډډه ونه کړي.

غونډه د علماءکرامو لخوا د طُلاب العلم او حافظانو په سرونو د فضيلت پګړيو پر اېښودلو او د تأييد پانو په ويشلو سره پای ته ورسېده.

***

**د ملک په کچه د امارتي ښوونځيو د...**

معين محترم الحاج مولوي صبغت الله وصيل د ساينسي علومو المپياد په جوړېدو خوښي څرګنده او په دغه برخه کې يې له ټولو ادارو څخه قدرداني وکړه. نوموړي وويل، چې علم د يو ملک ځواک او قوت دی او داد يې ورکړ چې افغان زده کوونکي او ځوانان به ډېر ژر د علم او ټکنالوژۍ په برخه کې لوی پرمختګونه او د نړۍ په کچه برياوې ترلاسه کړي.

همدارنګه د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معين محترم الحاج مولوي کرامت الله آخندزاده د ساينسي پروژو ټولو ممتازه زده کوونکو ته مبارکي وويله او څرګنده يې کړه، اسلام د علم په ترلاسه کولو ټينګار کړی، ځکه چې د ټولنې معيار په پوهه کې نغښتی دی، تر څو د دغه معيار پر مټ دنيوي او اخروي برياوو ته ورسېږو.

په ورته مهال نورو ويناوالو هم په خپلو خبرو کې وويل: افغانستان د استعدادونو راپورته کېدو ټاټوبی دی او ټينګار يې وکړ چې د اسلامي نړۍ د قوت او پرمختګ يوازينی بنسټ علم او پوهه ده.

د مسئولينو په وينا، دغه علمي سيالۍ لومړی په ولايتونو کې د ټولو اړوندو ښوونيزو مرکزونو په کچه پلې شوې، چې تر کره ارزونو وروسته له ټولو ولايتونو څخه د ۴۵ تنو زده کوونکو ساينسي پروژې غوره وبلل شوې او د ملک په کچه يې علمي سياليو ته لاره پيدا کړه، چې تر هراړخيزې ارزونې وروسته ۳ تنو (له پروان ولايت څخه ثناءالله لومړی مقام، کاپيسا ولايت څخه فرهادالله دويم مقام او له ميدان وردګ ولايت څخه محمداياز درېيم مقام) تر لاسه او د مسئولينو لخوا په معنوي او مادي ډاليو وويارل شول.

***

**برگزاری نشست هیأت تدریسات به...**

صورت گرفته، و در بخش های یاد شده حدود ۲۷ فیصله و تصامیم اخذ شده و جهت اجراآت بعدی به مراجع مربوطه محول شد.

## لنډخبرونه

### بدخشان

کار ترمیم لیسه مرکزی ولسوالی زیباک به هزینه ۶۲۶ هزار و ۸۵۰ افغانی تکمیل و با حضور مسئولان معارف به بهره برداری مجدد سپرده شد.
به گفته محترم الحاج مولوی محمد طاهر جواد رئیس معارف آن ولایت، تمامی مراحل تخنیکی کار بازسازی از نزدیک نظارت شده و ترمیم ساختمان‌ها، سیستم‌های آبرسانی و ملحقات دیگر مطابق با معیارهای انجنیری انجام شده است.

### کندهار - هلمند

محترم مولوی سمیع‌الحق حماس رئیس محترم حفظ و مراقبت تأسیسات و املاک وزارت معارف به منظور بازدید از پروژه‌های ساختمانی به ولایت های کندهار و هلمند سفر نمود.
هدف این سفرها، بررسی و نظارت از پروژه‌های ساختمانی تحت تطبیق ریاست های معارف و نهادهای همکار، ارزیابی میزان پیشرفت آن‌ها می‌باشد.

### بامیان

د پوهنې وزارت او د ملي دفاع وزارت ګډ تخنیکي ټیم په بامیان ولایت کې د څلورمې لوا پلې قطعاتو د سواد زده کړې ټولګیو ارزونه وکړه. د ارزونې پر مهال د دواړو وزارتونو د مسئولینو تر منځ د سواد زده کړې پروګرامونه تشریح شول او ټینګار وشو چې د بې سوادۍ د له منځه وړلو لپاره به په ملکي او نظامي ادارو کې د سواد زده کړې دوامداره ټولګي پرانیستل کېږي.
په دغه بهیر کې ۲۴۰ تنه د څلورمې لوا منسوبین و ارزول شول او ټاکل شوې چې په نږدې راتلونکي کې تصدیق پاڼې ورکړل شي.

### پکتیکا

د پکتیکا ولایت د چهاربران ولسوالۍ اړوند د ابن عباس (رضی‌الله عنه) مدرسې د ودانۍ جوړولو په موخه د سیمې د علم دوسته اوسېدونکو له لوري ۳ جریبه ځمکه وقف شوه. د یاد ولایت د پوهنې ریاست مسئولینو د ځایي اوسېدونکو د مرستې مننه وکړه او زیاته یې کړه: د مدرسې لپاره به د ودانۍ جوړولو چارې ډېر ژر پیل شي او طُلاب العلم د سرپناه نه شتون ستونزه به حل شي.

### کابل

په کابل ښار کې د حاجي چمن عالي اسلامي دارالعلوم کې د ۳۵ تنو طلابو او حافظانو د فراغت مراسم د پوهنې وزارت د اسلامي زده‌کړو معینیت مسئولینو، د اسلامي امارت لوړپوړو مېلمنو، علماءکرامو او استاذانو په حضور کې ترسره شول. یادو فارغانو له ډلې څخه ۲۹ تنه د احادیثو له برخې او ۶ تنه نور د قرآن‌کریم د حفظ له څانګې فارغ شول.

### نیمروز

د پوهنې په برخه کې د یوې ملاتړې بنسټ له لوري د نیمروز ولایت د مرکز او ولسوالیو ښوونځیو لپاره د لومړي تر پنځم ټولګي پورې ۲۸۵۷۴ ټوکه کتابونه مرسته شوې، چې ارزښت یې ۱۲۲۷۸۵۰ افغانی دی

### دایکندی

از طرف محترم حسین احمدی یک تن از معلمان مکاتب ولسوالی کیتی ولایت دایکندی به ارزش ۱۵۰ هزار افغانی برای لیسه و ابتدائیه شالیزار ولسوالی یاد شده چاه آب آشامیدنی حفر و با تجهیز وسایل تخنیکی آن مورد استفاده شاگردان مکاتب متذکره قرار گرفت.

# نبوي ملغلرې

**نهال شانی موجب صدقه میگردد**

مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا أَوْ يَزْرَعُ زَرْعًا فَيَأْكُلُ

(بخاري ج۳، ص۱۰۳، رقم ۲۳۲۰)

هر مسلمانی که درختی، غرس نماید، یا بذری بیافشاند و انسان، پرنده، و یا حیوانی، از آن بخورد، برایش صدقه محسوب می‌گردد.

***

**له خلکو څخه مننه کوئ**

عَنِ الأَشْعَثِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ –صلى الله عليه وسلم: أَشْكَرُ النَّاسِ لِلَّهِ أَشْكَرُهُمْ لِلنَّاسِ.

[السنن الکبري للبیهقي ج۴، ص۳۰۶، رقم ۱۴۹۰]

ژباړه: اشعث بن قیس رضی الله تعالی عنه وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په خلکو کې د الله تعالی ډېر شکر هغه څا اداء کړی دی چې د خلکو شکر یې ډېر اداء کړی وي.

***

**الله تعالی ته دوه خوښ خویونه**

رسول الله صلی الله علیه وسلم د عبدالقیس د قوم سردار ته وفرمایل: إِنَّ فِيكَ لَخَصْلَتَيْنِ يُحِبُّهُمَا اللَّهُ الْحِلْمُ وَالأَنَاةُ.

(رواه مسلم ج۱، ص۲۳۶ رقم ۱۸)

ژباړه: په تاسو کې دوې داسې خبرې دي چې الله تعالی یې خوښوي: (۱) حلم، زغم یا بردباري او (۲) تر غور او فکر وروسته کار کول.

**د مؤمن محبت او د الله جل جلاله رضا**

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: که څوک غواړي د ایمان خوند وڅکي، نو هغه دې یوازې د الله عزوجل د رضا او خوښۍ لپاره له مسلمان بنده سره محبت کوي.

(بخاري ج۱، ص۱۲، رقم۱۶)

***

**هغه تاجران چې په قیامت کې د فاجرانو په ډله کې راپورته کېږي**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: إِنَّ التُجّارَ يُبعَثُونَ يَومَ القِيامَةِ فُجّارًا ، إِلّا مَن اتَّقَى اللَّهَ وَبَرّ وَصَدَقَ.

(رواه الترمذي ج۲، ص۴۹۹، رقم۱۲۱۰)

ژباړه: یقیناً د قیامت په ورځ به تجاران فجاران راپورته کړل کېږي مګر بېله هغه (تجار) څخه چې د الله تعالی څخه وویرېږي، نېکي وکړي او رښتیا ووایي.

تشریح: یعنی پرته له هغه تجار څخه چې د خلکو سره ښه معاملات وکړي، دوکه او خیانت ونه کړي، د الله تعالی اطاعت او عبادات پر ځای کړي. په خبرو کې درواغ ونه وایي او د درواغو قسمونه وانخلي. (مرقاة)

***

**د قرانکریم د حافظ درجه**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې (د قیامت په ورځ به) د قران کریم حافظ ته وویل شي چې قران لوله او ته (د جنت لوړو درجو ته) پورته کېږه، او قران په ترتیل (ورو ـ ورو) سره وایه لکه څه ډول چې دې په دنیا کې په ترتیل (کراره ـ کراره) تلاوت کاوه، ځکه ستا مقام د هغه آخري آیت سره دی کوم چې ته یې لولې.

( السنن الکبرا ج۷- ص۲۷۲رقم ۸۰۰۲)

***

**په مسجد کې په جماعت سره لمونځ کول**

عن عثمان بن عفان، قَالَ: رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ تَوَضَّأَ لِلصَّلاَةِ فَأَسْبَغَ الْوُضُوءَ ثُمَّ مَشَى إِلَى الصَّلاَةِ الْمَكْتُوبَةِ فَصَلاَّهَا مَعَ النَّاسِ أَوْ مَعَ الْجَمَاعَةِ أَوْ فِى الْمَسْجِدِ غَفَرَ اللَّهُ لَهُ ذُنُوبَهُ "

( مسلم،ج۱،ص۱۴۳،رقم۵۷۱ ،أحمد و النسائي)

ژباړه: د عثمان (رضي الله عنه) څخه روایت دی چې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: چا چې د لمانځه لپاره ښه اودس تازه کړی او بیا د فرض لمانځه د ادا کولو لپاره مسجد ته ولاړ شي او د خلکو سره یې په جماعت سره لمونځ ادا کړي

## جملات کوتاه انگیزشی

- آرزوهای تان را بزرگ ببینید و برای رسیدن به آن تلاش کنید!
- هر اشتباه شکست نه، بلکه یک درس پنهان است از آن بیاموزید!
- شجاعت یعنی برای رسیدن به اهداف بلندتان ادامه بدهید، حتی وقتی که ترس دارید!
- زندگی کوتاه است؛ امروز بهترین نسخه برای آینده خودتان باشید!
- زحمت کشیدن در راه کسب علم همیشه نتیجه خوب می‌دهد.
- به توانایی‌های خودتان باور داشته باشید!
- هر روز یک فرصت تازه برای شروع دوباره است.
- تغییر با یک قدم کوچک آغاز می‌شود.
- خودتان را با دیگران مقایسه نکنید؛ مسیرشما منحصر به خودتان است!
- صبر و پشتکار، کلید رسیدن به موفقیت است.
- همیشه مثبت فکر کنید، زندگی هم مثبت می‌شود.
- شکست، توقف نیست؛ آغاز دوباره است.
- اعتماد به نفس، اولین قدم برای موفقیت است.
- رویاهای امروزتان، موفقیت فردای تان میباشد.
- خودتان را باور داشته باشید و دیگران را هم تشویق کنید.
- هیچ چیزی غیرممکن نیست؛ فقط باید تلاش کنید.

## مشکل تان را خودتان حل کنید!

فقط شما می‌توانید جواب درست برای خودتان را پیدا کنید. فقط شما می‌توانید تعیین و درک کنید که کدام یک از راه حل‌ها واقعاً درست است.
هیچ کس دیگری زندگی شما را بهتر از خودتان نمی‌شناسد، بنابرین هرگز به دنبال پاسخ دیگران نباشید، بلکه همیشه به خود و توانایی های خود اعتماد کنید.
فقط شما راه حل مشکلات زندگی خود را می‌دانید و زندگی شما بستگی به این موضوع دارد که چگونه از الهامات، همزمانی‌ها و قدرت خود در مسیر زندگی استفاده کنید، بنابرین خودت تان تصمیم بگیرید و متکی به نظرات دیگران نباشید.
چطور انتظار دارید مشکلات تان را دیگران حل کنند در حالی که خودتان این مشکلات را به وجود آورده اید؟

## قدر لحظه ها را بدانیم

در زندگی روزمره همگی در حال دویدن هستیم و این به عادت تبدیل شده است.
همواره می‌دویم چون در جست‌وجوی آرامش و موفقیت هستیم. اما در تک‌تک گام‌های ما، در این دویدن‌ها، یک معنا نهفته است و آن دور شدن ما از زندگی در لحظهٔ حال است.
از این غافل هستیم که تمام این موارد تنها با زندگی در لحظهٔ حال قابل دسترسی است. آرامش را تنها با زندگی در لحظهٔ حال می‌توان تجربه کرد. یک گام بردارید و سپس لحظه‌ای توقف کنید تا از وضعیت، جهت و مسیرتان کاملاً آگاه شوید.
این عمل همان متوقف کردن دویدن‌های بی‌حاصل است. هنگامی که یک گام بر می‌داریم، اگر بدانیم چگونه با ذهن‌آگاه این کار را بکنیم، در همان لحظه که پاهای مان زمین را لمس می‌کنند آرامش را تجربه خواهیم کرد.
جای افسوس دارد، اگر روز را به شب برسانید بی‌آنکه از گام برداشتن بر روی زمین لذت برده باشید.



## د ځان مطالعه

د ښه شخصیت په جوړېدو کې د ځان مطالعه کول هم مهم رول ادا کوي. هغه داسې چې انسان پر یوه کاغذ باندې د ښه شخصیت ټول اوصاف ولیکي. بیا خپل ځان مطالعه کړي، چې په ما کې دا صفتونه څومره موجود دي او څومره غیر موجود او پر کاغذ باندې خپل ټول بد اوصاف هم ولیکي بیا ئې هره جمعه را اخلي، په ځان کې یې وګوري چې په دې یوه اوونۍ کې ما څو بد صفات له ځان څخه و ایستل او څو ښه صفات مې په ځان کې پیدا کړل. خامخا یوه اوونۍ نه ده ضروري، میاشت دوې میاشتې خو بدلون ضروري دی. چې انسان داسې عمل وکړي، بیا ئې خپله شوق پیدا کېږي، چې بد اعمال پرېږدي او کرار کرار له ځان څخه نېک او شریف انسان جوړ کړي.

**سمیع الله درانی**

**کتنپلاوی:**
شیخ محمد طاؤس «طارق»
مولوي عزیز احمد «ریان»
مفتی حبیب الله «قتاده نوري»
احمد شعیب «حقیقي»
عبدالصبور «غفراني»
محمد نسیم «عیاذ»
سعید «جلال»
**مسئول مدیر:**
**انځور اخیستونکی:** محمد ادریس «نوري»

**صفحه آرا :** محمد قسیم «یعقوبي»
**شمېر :** ۳۰۰۰
**پته:** کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمریت

**د پوهنې کاروان مینه والو!**
تاسو کولای شئ خپلې لیکنې، وړاندیزونه او نیوکې په لاندې برېښنا لیک او تلیفون شمېرې له موږ سره شریکې کړئ.
Marifnewspaper1919@gmail.com
**د اړیکې شمېره:** ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲

# Marif
Weekly

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 315 /2025

# د ملک په کچه د امارتي ښوونځیو د ریاضیاتو او ساینسي پروژو (المپیاد) سیالیو پای غونډه ترسره شوه



د پوهنې وزارت د ساینس مرکز ریاست په نوښت، د ملک په کچه د امارتي ښوونځیو د زده‌کوونکو د ریاضیاتو او ساینسي پروژو (المپیاد) سیالیو پای‌غونډې مراسم، د پوهنې وزارت محترم مشرتابه، مسئولینو، مرکزي رئیسانو د ځینو بهرنیو ادارو استازو او مېلمنو په حضور کې ترسره شول.

په دې غونډه کې د پوهنې وزارت د نصاب او ښوونکو مسلکي پراختیا لوی رئیس محترم الحاج مولوي اول ګل ایوبي په خپله پرانیستونکې وینا کې د یادې علمي غونډې په تړاو ګډون والو ته معلومات وړاندې کړل او د تکنالوژۍ په برخه کې یې د زده کوونکو نوښت او هڅې وستایلې.

همدارنګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري لوی رئیس محترم الحاج مولوي غلام حیدر شهامت، د دغو علمي سیالیو په برابرولو او د نوښتګرو زده کوونکو په هڅونه کې د پوهنې وزارت کړنې وستایلې او له ځوانانو یې وغوښتل چې د علم او پوهې په ترلاسه کولو کې شپه او ورځ هڅې وکړي.

دغه راز د پوهنې وزارت مالي او اداري ...

۲مخ

# برگزاری نشست هیأت تدریسات به رهبری معین محترم تعلیم و تربیه

۹۳ مین اجلاس نوبتی هیأت تدریسات به ریاست محترم شیخ عبدالمالک حقانی معین تعلیم و تربیه وزارت معارف در حالیکه اعضای هیأت یاد شده متشکل از نمایندگان ۱۲ ریاست مرکزی حضور داشتند برگزار شد.

در این نشست در رابطه به موضوعات مطرح شده بحث صورت گرفته و هر یک از اعضا نظریات شان را با اشتراک کننده گان نشست شریک نمودند.

همچنان در این مجلس، در رابطه به پیشنهادات، مشکلات و عرایض مراجعین نیز بحث های مفصل ...

ص۲

# د غزني ولایت اوسېدونکو د پوهنې په برخه کې له ۱۸ مېلیونو افغانیو څخه زیاته مرسته کړې

د غزني ولایت پوهنې ریاست د معلوماتو له مخې د یاد ولایت د اوسېدونکو په مالي ملاتړ سره، د ۱۴۰۴ کال په لومړیو نهو میاشتو کې یې د اجرستان، ناور او مالستان په ولسوالیو کې د ۱۸ مېلیونو افغانیو څخه په زیات لګښت اساسي ښوونیزې پروژې پلې کړې دي.

د هغوی د څرګندونو پر بنسټ، په دې درېیو ولسوالیو کې ۴ ښوونځي جوړ شوي، ۷ ښوونځي بیارغول شوي، ۲ بابه دیني مدرسې نوې جوړې او ۱۵ بابه نورو ښوونځیو ته اداري وسایل پېرل شوي دي.

همدارنګه په اجرستان ولسوالۍ کې، ۲ بابه دیني مدرسې د ۱ مېلیون ۵۰ زره افغانیو په لګښت جوړې او د شمیه شافي‌خیل دیني مدرسې لپاره یو جریب ځمکه پېرل شوې ده.

په ناور ولسوالۍ کې، ۴ نوي ښوونځیو ودانۍ د ۱۳ مېلیونه ۷۹۳ زره ۵۶۳ افغانیو په ارزښت جوړې شوي، ۳ نور ښوونځي بیارغول شوي او ۱۰ بابه ښوونځیو ته اداري تجهیزات وېشل شوي دي.

په مالستان ولسوالۍ کې، ۴ ښوونځي بیارغول شوي او ۵ ښوونځیو ته اداري تجهیزات ورکړل شوي دي.

د پوهنې وزارت مشرتابه د پورته ذکر شویو پروژو پلي کول د خلکو او پوهنې وزارت ترمنځ د نږدې همکارۍ نښه ګڼي او د پوهنې په برخه کې د غزني ولایت علم دوسته اوسېدونکو له دوامداره ملاتړ ستاینه کوي.



# ساخت تعمیر یک باب مکتب به همکاری مردم در ولایت غور

تعمیر مکتب ابتدائیه «سر محقق شیرعلی» واقع در روستای «تزری» از مربوطات ولسوالی ساغر ولایت غور که به هزینهٔ ۵۰۰ هزار افغانی به کمک مالی باشنده گان محل اعمار گردیده بود طی محفلی با حضور مسئولان ریاست معارف و شماری از باشنده گان محل افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

مسئولان معارف ولسوالی ساغر میگویند، این تعمیر دارای ۸ صنف درسی و یک تعداد ملحقات ضروری آن می باشد که با ساخت آن برای صدها تن از شاگردان محل فضای مناسب و مصئون آموزشی فراهم شده است.

مسئولان معارف ولایت غور از همکاری باشنده‌گان ساحه «تزری» این ولسوالی ابراز خرسندی کرده و تلاش‌های شان را در زمینهٔ حمایت از معارف ستودند.

در این حال باشنده گان محل نیز از ساخت مکتب در قریه شان ابراز خرسندی کرده و حمایت شان را از برنامه های وزارت معارف برای رشد و توسعه علم و دانش ابراز نمودند.

# کار ساخت تعمیر یک باب مدرسه دینی در ولایت پکتیا آغاز شد


کار ساخت تعمیر جدید مدرسه دینی مدینة‌القرآن در شهر گردیز مرکز ولایت پکتیا طی محفل با اشتراک مسئولان ریاست معارف ولایت پکتیا و شماری از باشنده گان این ولایت آغاز شد.

مسئولان ریاست معارف ولایت پکتیا میگویند که این مدرسه در قطعه زمین وقف شده از سوی باشنده گان محل به مساحت ۱.۵ جریب زمین که ارزش آن به بیش از یک ونیم میلیون افغانی میرسد به هزینه ۲ میلیون افغانی ساخته می شود.

محترم الحاج مولوی عبدالقیوم فاروقی رئیس معارف ولایت پکتیا در صحبت های شان یاد آور شد؛ با همکاری مردم تلاش خواهند کرد تا برای طالبان‌العلم و شاگردان ، محیط معیاری تعلیمی فراهم کنند به گفته رئیس معارف با ساخت این مدرسه زمینه تعلیم برای صدها تن طُلاب این محل فراهم میگردد.

# په جوزجان کې شاوخوا ۱۰ زره زده کوونکو ته د سیمه ایېزو او چټکو زده کړو ټولګي تأسیس شول

د جوزجان ولایت پوهنې ریاست له لوري او معارف سره د یو شمېر مرستندویه بنسټونو په همکارۍ په یاد ولایت کې د شا اوخوا ۱۰ زره تنه زده کوونکو لپاره د سیمه ایېزو او چټکو زده کړو ټولګي تأسیس شول، د یاد ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وایي چې د ټول ولایت په کچه یې د مدارسو او ښوونځیو تر څنګ د سیمه‌ییزو، چټکو او مخکې له ښوونځي څخه د زده‌کړې ټولګي پراخ کړي دي چې په دې سره زده‌کړې ته د ماشومانو لاسرسی او په محرومو سیمو کې د تدریس کیفیت کې د پام وړ مثبت بدلون راغلی دی.



د یاد ولایت پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي لعل‌جان راشد وایي: یاد ټولګي د زده‌کوونکو د ښوونیزو ستونزو حل کولو، د ماشومانو د ملاتړ په موخه جوړ شوي دي.

نوموړي زیاته کړه، چې په مرکز او ولسوالیو کې د ښوونځیو او مدارسو تر څنګ ټولټال ۲۷۰ سیمه ییز ټولګي، ۶۲ د چټکو زده‌کړو ټولګي او ۱۳ له ښوونځي څخه مخکې زده‌کړو ټولګي جوړ شوي دي. چې په دې سره زرګونو تنه زده کوونکو ته د زده کړې زمینه برابره شوې ده.

**ولی دختر بالغ شرعاً مسئولیت دارد، در نامزد کردنش با وی مشوره کند و نظر مثبت وی را اخذ نماید.**

فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی در مورد جلوگیری از رواج های نادرست هنگام خویشی، عروسی ها، مصیبت ها و همچنان بازگشت از حج و عمره